مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۴/۰۱

# د لرغونیو ادیانو مسخ و نسخ

لرغونی بشر له بشپړ اساطيري دوران څخه فيلوسوفيک دوران ته د راهسکېدو په بهير کې له ديني منظومو سره مخامخېده.
دينونو د اخلاقي ماهيت ترڅنګ فيلوسوفيک ماهيت هم درلود .
دين د بشريت د خورا لرغونيو پوښتنو :
څه (څوک) يو؟
له کومه يو؟
ولې يو؟
او
څه به شو؟
ته د ځواب موندلو يو ادرس و .
پورته پوښتنو ته د ځواب موندلو هڅه:
۱ -د دياليکتيکي (جدلي) بحثونو او تفکر،
۲ -اشراق
۳ -د طبيعت په اړه د کتنو او تجربو
او د هستی له پېژاند سره موازي پر مخ تلله .
جدلي تفکر فيلوسوفي، اشراقي الهامونو دين و عرفان او طبيعي تجربو پوهنې رامنځ ته کولې .
دينو پورته پوښتنو ته لنډ، مخامخ او غوڅ ځواب وايه :
يو ستر هستوونکی شته، [په اساطيري دوران کې هستوونکي ګڼ ول] هرڅه يې هست کړي دي. نو انسان ته بويه، چې خپل هستوونکی وپېژني، ويې پرښتي (عبادت يې وکړي) او په ژوند چارو کې يې احکام ومني .
انسانانو چې خپلو مهمو پوښتنو ته لنډ او غوڅ ځواب ليده، اديانو ته ورګروهېدل او له خپل هستوونکي سره يې روحاني اړيکه جوړوله .
په تاريخ کې ګڼ اديان هغه وخت له مسخ (ماهيوي بدلون) او بيا نسخ (له منځه تلل) سره مخامخ شوي، چې ځينو چالاکو بنيادمانو په ياده روحاني اړيکه کې مداخله راپيل کړې ده.
د دينپژندنې يا ديني تفسير د انحصار سياست :
تقريباً په ټولو منسوخو اديانو کې همداسې پېښه شوې، چې ځينو کسانو ځانونه د دين استازي ګڼلي او د خلکو او هستوونکي تر منځ مخامخ اړيکې يې په ځان پورې تړلې دي .
»دوی دين په خپله ګټه تفسير کړی دی«!
دوی د واک، پانګې، ښه ژوند ورخپلولو او د باداری غريزې له مخې خدای پرښتنه (عبادت) له خلکو هېره کړې او د خپلو ځانونو پرښتنه يې پر خلکو تپلې ده .
د نيچه د فکر له مخې دوی ځانونه باداران کړي او خلک يې خپلې غلامۍ ته رابللي. د دوی چالاکي په دې کې وه، چې خلکو ته يې ويلي :
موږ د خدای په استازولۍ ستاسو باداران يو او تاسو بايد زموږ د غلامۍ له لارې د خدای بندګي وکړئ !


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په تاريخ کې د پخوانيو اديانو مسخ له همدې ځايه پيليږي، چې پر ديني عقيده سياست کول پيل شي او يوه نوې طبقه وغواړي دين داسې يرغمل کړي، چې په مټ يې خلک خپل غلامان کړي. د خدای بندګي د خدای او بنده تر منځ د بلې (واسطې) په غلامۍ پورې وتړل شي .
بت پرستي هغه وخت پيليږي، چې راهبان له ځانونو بتان جوړ کړي، ژوندي بتان هغه دي، چې د واک و ځواک لپاره خلک خپلې پرښتنې ته اړ کوي او هره راهبپرښتنه دين اول مسخ او بيا يې نسخ کوي .
پرښتنه (عبادت) يوازې چاته سجده کول نه دي، هغوی چې د دين په نامه سياسي واک او ټول مادي امتيازات ورخپلوي او د انسانانو وينې زبيښي، د خپلې واکمنۍ لپاره له دين پرته بله توجيه نه لري، په حقيقت کې ژوندي بُتان دي، چې خلک خپلې پرښتنې ته مجبوروي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ